غفور لیوال ۲۰۱۲/۱۱/۲۸

د ودانۍ د ټیم ستونزې

د ودانۍ ټیم به د خپل کار په پیل کې له ګڼو ستونزو سره مخامخ شي، خو دا په دې مانا نه ده چې هڅه او زیار یې بې ګټې دی او ګواکې موخې ته به ونه رسیږي. راځئ د ودانۍ د ټیم په مخکې پرتې ستونزې وشمارو او بیا یې حللاري هم یادې کړو.

• د شلو مېلیونرانو انحصاري ګټې او واک وځواک تر ټولو لوی خنډ دی، ځکه دوی د خپل سیاسي ځواک، پوځي ډلو او اقتصادي (تورو او توریدي) ګټو د دوامداره او میراثي ساتنې لپاره د یوه روښانه، وینې او بدلون راوستونکي فکري او سیاسي خوځښت مخه له بېلابېلو لارو نیسي. او که دوی دا کار ارادي ونه کړي هم، هغه انحصار چې دوی د یوه اغزن سیم په توګه له هرڅه څخه راچاپېرکړی دی، د یوه لوی خنډ په توګه پېژندل کېږي، د دې خنډ وځنډ څرنګوالی د دې لړۍ په لومړیو کړیو کې لوستلای شئ.

• عامه بې باوري، په تیرو دېرشو کلونو کې سیاستلوبو او له ګوندي، سازماني او آن مدني خوځښتونو څخه ناوړه ګټې اخیستنې او د بهرنیانو پرلپسې لاسوهنو د هر ډول متشکل جوړښت په وړاندې د خلکو باورونو ته کلک زیان رسولی دی او دا چاره یې یوه څه ستونزمنه کړې ده چې خلک دې په بشپړ جرئت پر یوه افغاني ټیم را غونډ شي او د هېواد ودانۍ ته دې ملا وتړي.

• تر دېرشو کلونو ډېر وخت وشو، چې د افغانستان په اړه د لویو سیاستونو پریکړې په بهر کې او یا د بهرنیانو په ملاتړ تر سره کېږي، دې ستونزې خلک دې باور ته رسولي دي چې ترڅو بهرنیان پریکړه ونه کړي، هیڅ افغان خوځښت سمون او بدلون راوستلای نه شي. حال دا چې د ودانۍ ټیم به یو بشپړ افغاني خوځښت وي.

• د ودانۍ ټیم به د خپلې مبارزې په پیل کې د تش جیب او تشو لاسونو له ستونزې سره مخامخ وي، په تیره بیا په داسې ټولنه کې چې د مېلیونرانو سیاستلوبو او کمپاینونو (په سیاست کې د پیسو د بادولو عادت) په یوه سیاسي فرهنګ بدل کړی دی او یوځل بیا یې دا باور له خلکو سره پیاوړی کړی، چې سیاست بې له پریمانه پیسو نه شي کېدلای. حال دا چې د ودانۍ ټیم نه له بهرنیانو څخه پیسې اخیستلای شي، نه غلا او فساد کولای شي او نه هم له تورو لارو پیسې ګټلای شي. د ودانۍ ټیم یوازې د خپلو ګډو نوندو (حق العضویتونو) او یا هم د خپلو خپروونو د پلورلو او بې شرطه بسپنو په مرسته کارکوي.

• د ودانۍ ټیم به په لومړي سر کې د کادرونو له کمښت سره هم مخامخ وي، ځکه کادرونه د مارکیټ تر ټولو قیمتي کالي دي، چې همدا اوس د شلو مېلیونرانو په منګولو کې ښکېل د ي او په مخامخ یا نا مخامخ بڼه یې زبېښي. خو له دې ټولو ستونزو سره سره د ودانۍ ټیم باید رامنځته شي او د خلکو تر منځ خپل ځان ته ځای وګوري. راځئ لږ په دې تم شو، چې د ودانۍ ټیم څنګه کولای شي د پورته خنډونو په وړاندې خپلې هڅې وقایه کړي؟ تر هرڅه وړاندې د ویښتیا په پړا و کې باید خلکو ته هغه ګواښونه وروپېژندل شي، چې د اوسنیو ناخوالو دوام یې ورته پېښولای شي. د روښانتیا په پړاو کې (چې دمبارزې دوهم پړاو دی) باید له دې ګواښونو او ستونزو څخه د ځان ژغورنې دعملي لارو چارو ورپېژندنه وشي او هغه میکانیزمونه یې تر مخې کېښودل شي، چې پر علمي بنسټ ولاړ وي او د افغانستان له شرایطو سره سم عملي هم وي. او په درېیم ګام کې د هغه بدلون د بهیر لارښوونه وکړای شي، چې خلک یې ترسره کول غواړي.

دا ټول د یوه متشکل، منظم، دسپلین لرونکي او دیموکرات سیاسي خوځښت په جوړیدو سره تر سره کیدای شي. همدا جوړښت د ودانۍ ټیم دی، چې هم به په خلکو کې د بې باورۍ فضا له منځه وړي، هم به د شلو مېلیونرانو د انحصار ګواښ ورپېژني، هم به د افغانمحوره سیاست اړتیا او وړتیا معرفي کوي او هم به پخپله د مبارزې په ډګر کې خپل وخت، امکانات او انرژي لګوي.

د ودانۍ ټیم تر هغو چې د خپلو هڅو او موخو پر حقانیت باور ونه لري، مبارزه نه شي کولای، د هر ډول بېباورۍ علاج دا دی چې تاسو خپله پر هغې لارې باور وکړئ چې پرې روان یاست.

د ودانۍ ټیم ښایي خپله منظمه مبارزه په یوه ایډیولوګ بدله کړي او هڅه وکړي د خپلو طرحو د پراخولو په بهیر کې نور هم پرې وپوهولای شي، البته د ټرلیو طرحو د مبلغانو پر خلاف، تل ښایي د خپلې طرحې په وړاندې کره کتنې ومني او د هرې شیبې تکمیل او اصلاح لپاره یې چمتو اوسي.

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ودانۍ ټیم ښایي فکر محوره وي، نه شخصیت محوره، دا سمه ده چې شخصیتونه مهم دي او دا شخصیتونه دي چې افکار رامنځته کوي، خو د ودانۍ ټیم د دې پرځای چې د خپلو ملګرو اینرژي، وخت او نفوذ د کوم شخصیت د پرسولو یا ورانولو پرچاره ولګوي، ښه به دا وي چې د خپلې فکري طرحې پر پخولو یې ولګوي. فکر محوره جوړښتونه د مشرۍ یا کشرۍ په ستونزه کې نه پریوځي او هر هغه څوک چې د ټاکلي فکر او طرحې د بریالیتوب لپاره ډیر کار کولای شي هماغه د بهیر مشرۍ ته ورپورته کیږي. په حقیقت کې د ودانۍ ټیم د (څوک دی ؟) پر ځای (څه کوي ؟) ته رایه له خپل منځه پیل کوي.

د ودانۍ ټیم د خپلې مبارزې په اوږدو کې ښایي د خپلې مبارزې له بېوزلۍ څخه ونه ویریږي، او هېڅکله په زرق وبرق او فیشن پسې ونه ګرځي، خلک بالاخره پر بېوزله او فقیرو، خو پاکو او پر خپلو پښو ولاړو جوړښتونو باور کوي او دغه باور به ډیر پوخ او تلپاتې وي. لیدل شوي دي چې ډیر معقول سیاسي خوځښتونه د پردیو د مرستو (!) یا پیسو ورکولو له امله ناکام شوي دي ، همدا راز پر شتمنیو یې داخلي سیالۍ پیل کړي دي او د مادي امتیازاتو په خاطر سره پاشل شوي دی.

او با لاخره دودانۍ ټیم باید په پیل کې پر تنویري، تشکیلاتي او د خپلو سیاسي طرحو د پیاوړتیا پر هڅو ډیر زور واچوي، چې هغه عامه باور ته ځان ورسولای شي، چې ورته د مبارزې لپاره په کاردی. له شخصیتي پلوه د ودانۍ د ټیم غړي ښایي د تقوا، ښو اخلاقو، پوهې او پیاوړې ارادې نښې وګڼل شي، دا ټولې ځانګړتیاوې کولای شي د ودانۍ ټیم هغه لوی ارمان ته ورسوي، چې دی وه ملت د ژغورنې لپاره یې لري.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ